د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

( اناستو )



# معلوماتي کتلاک

کال: ۱۴۰۴ هـ ش

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

معلوماتي کتلاک

کال: ۱۴۰۴ هـ ش

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Afghanistan National Agricultural Sciences and Technology University ( ANASTU )



# Informative Catalog


https://anastu.edu.af

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

+93 (0) 705303519

د سپین بولدک لویه لاره د (۲۰۵) البدرقول اردو شاته
د اناستو پوهنتون، کندهار، افغانستان

## د مطالبو لړلیک


| ګڼه | عنوان | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د پوهنتون درئیس پیغام | آ |
| ۲ | د پوهنتون لنډه پېژندنه | ۱ |
| ۳ | د علمي چارو معاونیت | ۱۰ |
| ۴ | د علمي څېړنو معاونیت | ۱۸ |
| ۵ | د مالي او اداري چارو معاونیت | ۲۴ |
| ۷ | د اړیکو او انسجام معاونیت | ۲۸ |
| ۸ | د محصلانو چارو معاونیت | ۳۲ |
| ۹ | د نباتي علومو پوهنځی | ۳۸ |
| ۱۰ | د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی | ۴۶ |
| ۱۱ | د وترنري علومو پوهنځی | ۵۰ |
| ۱۲ | د حیواني علومو پوهنځی | ۵۴ |
| ۱۳ | د پوهنتون عمده لاسته راوړني | ٦۱ |
| ۱۴ | په پوهنتون کښې د سته امکاناتو او فرصتونو انځورونه | ٦۷ |
| ۱۵ | د استادانو تألیفات او ژباړې | ۷۵ |
| ۱٦ | د پوهنتون اړیکي او علمي بهیر | ۸۰ |
| ۱۷ | د ټولني سره د اړیکو قوت | ۸۱ |

# د پوهنتون د رئيس پيغام

ٱلْـحَمْدُ لِأَهْلِهِ، وَٱلصَّلَاةُ عَلَىٰ أَهْلِهَا

**اما بعد:** قال الله تعالی: قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ

لکه څنګه چې معلومه ده، پوهنتونونه، ديني مدرسې، تخصصاتو جامعې او د لوړو زده کړو مؤسسې د علم د تقسيمولو او خورولو لپاره اساسي مرکزونه ګڼل کيږي، د همدې له برکته په انساني ژوند کښې سهولتونه او پرمختګونه را منځته کيږي او د انساني تمدن په وړاندې پراته خنډونه د منځه وړي، چې په پايله کښې انساني تمدن رشد او ارتقاء کوي.

په خلاصه ډول بايد ووايم، چې علمي مراکز د ټولني د پرمختګ، اصلاح او رفاه لپاره هغه مراجع دي، چې انساني ژوند ته علمي ښکلا وربخښي او په ژوند کښې خوشبختي را منځته کوي.

علمي مرکزونه په خپل منځ کښې بېلا بېل واحدونه لري، چې په مجموع کښې ټول مشترکو مقاصدو او اهدافو ته د رسيدو په پيغام رسونه بوخت دي.

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د ګران افغانستان په تحصيلي بنسټونو کښې يو مهم تحصيلي بنسټ دي، چې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کښې خپلې علمي، تحقيقي او ترويجي چارې پرمخ وړي. نوموړی پوهنتون په (۱۳۹۱) هـ ش کال کښې تاّسيس سوي دي، د فوق ليسانس په کچه درې پوهنځی (نباتي علوم، حيواني علوم، کرنيز اقتصاد او توسعه) لري، چې په دوو (۲) پوهنځيو (نباتي علوم او حيواني علوم) کښې تر (۱۳۹۹) هـ ش کال پورې د ماسټرۍ برنامې پرمخ وړې دي، وروسته په (۱۳۹۹) هـ ش کال د وترنري پوهنځی د ليسانس په کچه پکښې تاسيس سوه، په همدغه (۱۳۹۹) هـ ش کال کې د کندهار پوهنتون څخه د کرهنې پوهنځی د ليسانس په کچه را انتقال سوه او په اناسټو پوهنتون کښې ادغام سوه، اوس اناسټو پوهنتون الحمد الله د ليسانس په کچه په يادو څلورو (۴) پوهنځيو کښې (۱۷) څانګې لري او همدا رنګه د وترنري علومو پوهنځی په استثناء په پاته دريو پوهنځيو کښې د فوق

لیسانس (ماسټري) په کچه په نهه (۹) څانګو کښې فعالیت لري او غواړي، چې د دوکتورا په کچه د اګرانومي په څانګه کښې خپل فعالیت شروع کړي، تر څو ئې د کرهنې په اړخ کښې خپل د اولس سته ستونزو ته رسیدګي کړې وي، دا ځکه چې اناسته پوهنتون د هیواد په کچه یو کرنیز پوهنتون دي، چې الحمد الله د ښه لابراتوار، تقریبا (۵۰۰۰) جریبه ځمکي او(۱۰۰) کادري استادانو تشکیل، یو څېړنیز فارم، دولتي او سولري برق او کتابتون لري، همدارنګه نوموړی پوهنتون په داخل او خارج کښې د لوي پوهنتونونو سره تفاهم نامو تر څنګ هندوستان هیواد (IARI) پوهنتون سره لس کلن عملیاتي پلان په لرلو او د رهبرۍ د پوره توجه او همداسي د اطاعت په کولو د خپلي رهبرۍ هیله مند یو، چې د اولس او نظام غوښتنو ته جواب ویونکي واوسوو او یو مثبت تغیر را منځته کړو.

بِعَوْنِ اللهِ تَعَالَی وَحُسْنِ تَوْفِیقِهِ

الحاج مولوي سید محمد داؤد اغا (الهاشمي)

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون رئیس

# د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون

## پېژندنه

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د هیواد د لوړو زده کړو وزارت له لوري، په ځانګړي اداري چوکاټ کښې اداره کیږي، چې د یو عمومي مسؤل تر نظارت لاندي او هره برخه ئې ځانته ځانګړی تشکیل او کاري بشري ځواک لري، چې په لاندي دیاګرام کښې یوازي د رهبرۍ څخه یادونه کیږي.




(۱) **ګراف:** د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د رهبرۍ غړو او اورګانو دیاګرام.

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون په کندهار ولایت کښې په (۱۳۹۱) هـ ش کال د یو لړ شاندارو مراسمو په ترخ کښې د وخت د ولسمشر حامد کرزي، د هندوستان هیواد د بهرنیو چارو وزارت د وخت وزیر ښاغلی

سلمان (خورشید) او د لوړو زده کړو وزارت د وخت وزیر ښاغلی عبیدالله (عبید) لخوا په رسمي توگه د کندهار ولایت د پخواني ترنک فارم په ساحه کښې پرانیستل سو. یاد پوهنتون د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ پر اساس د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندي جوړ سوي دی، چي د اوسني رئیس الحاج مولوي سید محمد داود اغا (الهاشمي) تر مشرۍ لاندي فعالیت کوي.

یاد پوهنتون په خپل اوسني ماموریت کښې دنده لري، ترڅو د کرهنې او مالدارۍ په مختلفو برخو کښې محصلینو ته د لیسانس او فوق لیسانس تر کچي پوري د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي، چي تر اوسه پورې ئې درې دورې د لیسانس او درې دورې د فوق لیسانس (ماسټرۍ) په کچه فارغ التحصیل محصیلین ټولني ته وړاندي کړي دي. د فوق لیسانس په برخه کښې د اگرانومي درې دورې، د هارټیکلچر، نبات ژغورني او مالدارۍ څانگو لومړۍ دورې محصلین فارغ سوي، د اگرانومي څانگي څلورمه دوره محصلین به په نژدې راتلونکي کښې فارغ سي.

همدارنگه اگرانومي پنځمه دوره، هارټیکلچر، نبات ژغورني، مالدارۍ دوهمه دوره او کرنیز اقتصاد لومړۍ دوره د فوق لیسانس اړوند د ماسټرۍ محصلینو د تدریس چاري جریان لري ، د لیسانس برخي د مخکنیو څانگو سربیره په مختلفو نویو څانگو کښې د محصلینو د جذب لپاره چمتوالی لري.

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د خپلو اساسي موخو (زده کړه، څېړني او ترویج) د ترلاسه کولو په لور خپل مزل جاري ساتي، چي د محصلانو د روزني سربیره په څېړنیزه او ترویجي برخه کښې یو مخکښ پوهنتون گڼل کیږي. یاد پوهنتون چي د ایجاد څخه ئې تر اوسه یوازي (۱۲) کلونه کیږي، د خپلو (۱۰٦) تنه استادانو په مټ مکمل د (۳۵۰) په شاوخوا کښې نړیوالي مقالي، تقریباً (۴۰۰) داخلي مقالي او ورسره (۷۵) ژباړي او تألیفونه ترسره کړي دي او دا چاره په ډېر جدیت سره لا دوام لري .

د دې ترځنګ د افغانســتان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون په پلان کښې لري، چې په (۵۰۰) جریبه ځمکه کښې بوتانیکي باغ تأسیس کړي، ترڅو وکولای سي د ټول هیواد څخه د نباتاتو ډول ډول نوعي راټولي او له منځه تلو څخه ئې وژغوري او له بلی خوا د تحقیق لپاره به یو مناســب محیط برابر ســوی وي.

یاد پوهنتون د علمي، اداري او تربیتي تشکیلاتو درلودونکی دی، چې د هیواد د نافذه قوانینو او مقرراتو په رڼا کښې د پوهنتون د رئیس له خوا اداره کیږي، چې تر لاس لاندي ئې د بېلابېلو برخو لپاره مرستیالان او د هري پوهنځی او استادانو چارو امریت لپاره با تجربه مسؤولین لري او د لوړو زده کړو وزارت د اصولو پر بنیاد په ذکر سویو بستونو کښې یوازي کادري پرسونل د استخدام مستحق بلل کیږي.

دا چې اناستو پوهنتون د پخواني ترنک فارم په نږدې (۵۰۰۰) جریبه ځمکه باندي قرار لري او د یادي ځمکي څخه د علمي څېړنو په منظور استفاده کیږي اوس مهال په (۱۴۰۳-۱۴۰۴) هـ ش کال کښې څېړنیزو چارو ته د ښې رسېدني په منظور په (۲۵۰) جریبه ځمکه کښې نوی څېړنیز فارم جوړ کړل سو چې حیواني کلینیک، (۳) دانې د ماهیانو لپاره حوضونه، (۲) دانې د چرګانو فارمونه، (۱) دانه د وزو فارم چې شاوخوا ټول نوی څېړنیز فارم په پینس باندي احاطه سوي دي.

یاد پوهنتون د خپلو کارکوونکو لپاره منظم انټرنیټ او منظم سولري برېښنا سیستم لري. پوهنتون ټولني ته د مسلکي او وړ محصلینو د وړاندي کولو په برخه کښې رغنده ونډه درلودلې ده. د یادوني وړ ده چې د پوهنتون چاري د شته محدودو امکاناتو او ستونزو سره منظمي رواني دي. د شفافیت او برېښنایي حکومتولۍ د ترویج په موخه د محصلانو اړوند ټول اسناد مو په منظم ابتدایي ډیټابیس کښې ځای پرځای سوي دي. د (۱۴۰۱) هـ ش کال د شروع څخه د کیفیت د لوړاوي پروسه مو د خپلو امکاناتو په چوکاټ کښې پیل کړې ده، او لومړۍ مرحله مو تر

لاسه کړې ده، د دې لپاره چې محصلان د کار د بازار د غوښتني سره سم وروزل سي، د نوي تائيد سوي کوريکولم څخه استفاده کيږي. د کيفيت او کميت د لوړاوي په موخه د پوهنتون رهبري په ډېر کم وخت کښي نه ستړې کېدونکي کوښښونه کړي دي، څو د محصلانو لپاره ښه تدريسي چاپېريال، معياري وداني، لابراتوارونه او نوري اړيني اسانتياوي برابري کړي او دا هڅي ادامه لري.

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د هيواد د نورو پوهنتونونو په نسبت يوه ځوانه اداره ده، چې کارمندان ئې ظرفيت لوړوني او لوړو زده کړو ته اړتيا لري، دې اړتيا ته په کتو ياده اداره پر منظم پلان کار کوي، چې هغه پلان ته په کتو خپل علمي کادرونه وخت پر وخت مختلفو هيوادونو ته د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو په موخه وليږي.



| ګڼه | بست | کادري | اداري |
|---|---|---|---|
| ۱ | لومړی | ۱ | ۰ |
| ۲ | دويم | ۸ | ۱ |
| ۳ | دريیم | ۲۲ | ۹ |
| ۴ | څلورم | ۷۸ | ۲۳ |
| ۵ | پنځم | ۰ | ۲۵ |
| ٦ | شپږم | ۰ | ۰ |
| ۷ | اووم | ۰ | ۳۹ |
| ۸ | اتم | ۰ | ۲۳ |
| مجموعه | | ۱۰۹ | ۱۲۰ |
| ټوټل مجموعه | | ۲۲۹ | |

(۱) **جدول:** د افغانستان د کرنیزو علومو اوټکنالوژۍ ملي پوهنتون د بستونو په اساس د کادري او اداري پرسونل جدول.

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون په مجموع کښې ټول (۱۰۰) تنه کادري تشکیل لري، چي له دې جملې څخه ئې (۱۰) هغه کار کوونکي دي، چي په کادري او اداري دواړو برخو کښې دنده پر مخ وړي بناً ددې پوهنتون اوسنی ټول کادري او اداري تشکیل (۲٦۸) تنه دي، چي په بیلابیلو برخو کښي په دندو بوخت دي.

| گڼه | د پوهنځی نوم | څانګه | برحال استادان |
|---|---|---|---|
| ۱ | د نباتي علومو پوهنځی | اګرانومي | ۷ |
| | | خاوره او اوبو لګونه | ٦ |
| | | میکانیزه کرهڼه | ۴ |
| | | بایوټکنالوژی | ۳ |
| | | ځنګل پوهنه او طبیعي منابع | ۵ |
| | | نباتي اصلاح او تکثیر | ۴ |
| | | هارټیکلچر | ۸ |
| | | نبات ژغورنه | ۸ |
| ۲ | د حیواني علومو پوهنځی | مالداري | ۳ |
| | | حیواني اصلاح او روزنه | ۴ |
| | | الوتونکو، ماهیانو او شاتو مچیو روزنه | ۵ |
| | | حیواني محصولاتو ذخیره او پروسس | ۳ |
| ۳ | د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی | کرنیز اقتصاد | ۵ |
| | | کرنیزه توسعه | ۳ |
| | | اګریبزنس | ٦ |
| | | کرنیز مارکېټینګ | ۴ |
| | | اسلامي ثقافت | ۷ |
| ۴ | د وترنري علومو پوهنځی | کلینیک | ۳ |
| | | پری کلینیک | ۳ |
| | | پارا کلینیک | ۳ |
| | | اساسي علوم | ۷ |
| عمومي مجموعه | | | ۱۰۰ |

(۲) **جدول:** د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د برحاله استادانو جدول.

**د پوهنتون اساسنامه:**

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون لرلید د لوړو زده کړو وزارت د لارښود مطابق ترتیب او د پوهنتون شورا ته وړاندي سو، چي په (۱۴۰۳/۱۲/۲۹) نېټې په (۱۱) گڼه پروتوکول علمي شورا غونډه کښي تائید سوي دي دا جوته ده، چي با کیفیته زده کړي د وړ بشري ځواک په وړاندي کولو کښي رغنده ونډه لري، ځکه نو یاد پوهنتون یو روښانه لرلید او رسالت لري چي هغو ته په کتو هڅه کوي، څو د هیواد په کچه د لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا داسي کادرونه ټولني ته وړاندي کړي، چي د ټولني د پرمختگ، ښیرازۍ او سوکالۍ مصدر وگرځي.

**د اناسټو پوهنتون لرلید، رسالت او موخي**

**لرلید**

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون غواړي چي په ملي او سیمه ایزه کچه د کرهنې او مالدارۍ د عصري کېدو په برخه کښي د مسلکي او بشري ځواک په مټ د تدریسي او څېړنیزو خدمتونو په وړاندي کولو سره په ملي او سیمه ایزه کچه یو مخکښ پوهنتون واوسي.

**رسالت**

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي څېړنو او فعالیتونو په ترسره کولو او له عصري ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره د کرهنې او مالدارۍ په برخه کښي د ټولنې اړتیاوو سره سم، د لیسانس او فوق لیسانس په کچه مسلکي او ژمن کادرونه روزي او د هیواد اقتصادي پیاوړتیا او ثبات په برخه کښي خپل مسؤلیت ادا کوي.

## موخې

- د فزیکي پراختیا او د ودانیزو زیربنایي اسانتیاوو له لارې پوهنتون په یو اغیزناک او مساعد علمي چاپیریال بدلول؛
- د تحقیق، تولید او ترویج له لارې د کرهنې او مالدارۍ سکتور پیاوړې کول او د خوړو له اړخه د هیواد په ځان بسیا کول؛
- د کرهنې او مالدارۍ په برخو کښې د نوې ټکنالوژۍ ترویجول؛
- په مسلکي او تخصصي کچه د بشري ځواک روزل؛
- د فردي، کورني او ملي اقتصاد پیاوړتیا او د بې کارۍ کچه کمول.

## ارزښتونه

- اکاډمیکه آزادي
- غوره توب
- ګډ کار کول
- ژمنه او مؤثریت
- همکاري کول
- نوښت کول

| شمیره | د کمیټې نوم |
|---|---|
| ۱ | د ستراتیژیک پلان کمېټه |
| ۲ | د دعوت او ارشاد، شکایاتو اوریدل او نظم کمېټه |
| ۳ | د فرهنگي چارو کمېټه |
| ۴ | مالي کمېټه |
| ۵ | د نصاب کمېټه |
| ٦ | د برېښنايي زده کړو بورډ |
| ۷ | د علمي څېړنو او نشراتو کمېټه |
| ۸ | د ازموینو کمېټه |
| ۹ | د محصلانو چارو کمېټه |
| ۱۰ | د کیفیت لوړولو کمېټه |
| ۱۱ | د کتابتون د انسجام کمېټه |
| ۱۲ | د حکمونو، فرامینو او د امربالمعروف قانون د تنفیذ کمېټه |
| ۱۳ | علمي شورا |
| ۱۴ | د تقرر او علمي ترفیعاتو کمېټه |
| ۱۵ | د انګلیسي ژبې د ازموینو بورډ |
| ١٦ | رهبري شورا |
| ۱۷ | د فوق لیسانس برنامو بورډ |
| ۱۸ | ورزشي کمېټه |
| ۱۹ | د چاپېریال ساتنې کمېټه |
| ۲۰ | د چارو د تفتیش او فساد په وړاندې د مبارزې کمېټه |
| ۲۱ | د مسلکي انکشاف بورډ |
| ۲۲ | د علمي مجلې بورډ |

(۳) **جدول:** د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د کمېټو جدول.

# د علمي چارو معاونیت

د افغانستان د نورو تحصیلي نهادونو په څېر د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون کښې د علمي چارو معاونیت د خپل تشکیلاتي برخو سره یو ځای شتون لري، چې د دغه تحصیلي نهاد ټولي علمي چاري د لوړو زده کړو وزارت د نافذه مقرراتو او لوایحو له مخي تنظیم او د دغه نهاد لرلید او رسالت ته په کتو سره ټاکل سویو موخو ته د رسېدو لپاره کوښښ کوي. دغه چاري د څلورگونو پوهنځیو (نباتي علوم، حیواني علوم، کرنیز اقتصاد او توسعه، او وترنري علوم) د شته (۲۱) تحصیلي څانگو په چوکاټ کښي د (۱۰۰) تنو مجربو استادانو په مټ پرمخ رواني دي. د لیسانس علمي برنامې د تحصیلي کلیزي له مخي جریان لري او په (۱۴۰۴) هـ ش (۱۴۴۶) هـ ق کال کښي د فوق لیسانس ماسټرۍ په (۵) علمي برنامو کښي تحصیلي بهیر پیل سوی دي.

همدارنگه علمي چارو معاونیت ته د پوهنتون د رئیس په نشتون کښي د ریاست د چارو ترسره کول، د پوهنځیو له اړتیا سره سم د علمي او قراردادي کادرونو په گومارنه کښي علمي او اصولي اجراأت، د پوهنتون د اعتبار ترلاسه کولو په موخه د تضمین کیفیت اړوند ټول فعالیتونو ترسره کول، په پوهنتون کښي د علمي پلانونو طرح او عملي کول، د پوهنتون علمي شورا ته د کاري پلان جوړول، د پوهنتون په اړه د مقررو، لایحو او طرزالعملونو څېړنه، ارزونه او د اړتیا پر مهال لوړو مراجعو ته د تعدیل وړاندیز کول، د درسي نصاب ارزونه او د وخت له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره ئې برابرول، د محصلینو د علمي او ساحوي کارونو د ترسره کولو لپاره د امکاناتو برابرول او همدا راز یو شمېر نوري دندې ورسپارل سوی دي.

## لرلید

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون غواړي چې په ملي او سیمه ایزه کچه د کرهنې او مالدارۍ د عصري کېدو په برخه کښې د مسلکي او بشري ځواک په مټ د تدریسي او څېړنیزو خدمتونو په وړاندي کولو سره په ملي او سیمه ایزه کچه یو مخکښ پوهنتون واوسي.

## رسالت

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي څېړنو او فعالیتونو په ترسره کولو او له عصري ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره د کرهنې او مالدارۍ په برخه کښې د ټولنې اړتیاوو سره سم، د لیسانس او فوق لیسانس په کچه مسلکي او ژمن کادرونه روزي او د هیواد اقتصادي پیاوړتیا او ثبات په برخه کښې خپل مسؤلیت ادا کوي.

## موخې

- د فزیکي پراختیا او د ودانیزو زیربنایي اسانتیاوو له لارې پوهنتون په یو اغیزناک او مساعد علمي چاپیریال بدلول؛
- د تحقیق، تولید او ترویج له لارې د کرهنې او مالدارۍ سکتور پیاوړې کول او د خوړو له اړخه د هیواد په ځان بسیا کول؛
- د کرهنې او مالدارۍ په برخو کښې د نوې ټکنالوژۍ ترویجول؛
- په مسلکي او تخصصي کچه د بشري ځواک روزل؛
- د فردي، کورني او ملي اقتصاد پیاوړتیا او د بې کارۍ کچه کمول.

## ارزښتونه

- اکاډمیکه آزادي
- غوره توب
- ګډکارکول
- ژمنه او مؤثریت
- همکاري کول
- نوښت کول




(۲) **گراف:** د علمي چارو معاونیت تشکیلاتي چارټ.

| ګڼه | پوهنځی | څانګه | علمي رتبه | | | | | | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنیار | ن.پوهنیار | پوهیالی | |
| ۱ | نباتي علوم | اګرانومي | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۳ | ۰ | ۰ | ۷ |
| | | هارټیکلچر | ۰ | ۰ | ۱ | ۲ | ۳ | ۰ | ۰ | ۷ |
| | | نباتاتو ژغورنه | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۳ | ۲ | ۰ | ۷ |
| | | بایو ټکنالوژی | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۳ |
| | | کرنیزه میکانیزه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۰ | ۴ |
| | | نباتاتو اصلاح او تخمونو تکثیر | ۰ | ۰ | ۲ | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۴ |
| | | ځنګلونه او طبیعي منابع | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۳ | ۱ | ۰ | ۵ |
| | | خاوره پوهنه او اوبو لګونه | ۰ | ۱ | ۰ | ۳ | ۲ | ۰ | ۰ | ٦ |
| مجموعه | | ۸ | ۱ | ۲ | ۵ | ۱۱ | ۱۷ | ٦ | ۰ | ۴۳ |
| ۲ | حیواني علوم | حیواناتو اصلاح او روزني | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۰ | ۴ |
| | | مالداري | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ |
| | | د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسس | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ |
| | | د الوتونکو، ماهیانو او شاتو مچیو روزنه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۴ | ۰ | ۵ |

**(۴) جدول:** د پوهنځی، څانګې او علمي رتبې په تفکیک د استادانو احصائیه ۱۴۰۴

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مجموعه | | ۴ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۳ | ۸ | ۲ | ۱۵ |
| ۳ | **کرنیز اقتصاد او توسعه** | کرنیز اقتصاد | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۰ | ۵ |
| | | کرنیزه توسعه | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۲ | ۰ | ۰ | ۳ |
| | | اګریبزنس | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۱ | ۱ | ۰ | ٦ |
| | | مارکیټینګ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۰ | ۴ |
| | | اسلامي ثقافت | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۷ | ۰ | ۷ |
| مجموعه | | ۴ | ۱ | ۰ | ۱ | ۴ | ۵ | ۱۴ | ۰ | ۲۵ |
| ۴ | **وترنري** | کلینیک | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۱ | ۰ | ۰ | ۳ |
| | | پری کلینیک | ۰ | ۰ | ۱ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ |
| | | پارا کلینیک | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۳ |
| | | اساسي علوم | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ٦ | ۰ | ۰ | ۷ |
| **مجموعه** | | ۴ | ۰ | ۰ | ۴ | ۴ | ۸ | ۰ | ۰ | ۱٦ |
| **عمومي مجموعه** | | ۲۰ | ۲ | ۳ | ۱۰ | ۱۹ | ۳٦ | ۲۸ | ۲ | ۱۰۰ |

| ګڼه | د پوهنځی نوم | د څانګې نوم | دوکتور | ماستر | لیسانس | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نباتي علوم | اګرانومي | ۳ | ۴ | ۰ | ۷ |
| | | هارټیکلچر | ۳ | ۴ | ۰ | ۷ |
| | | نباتاتو ژغورنه | ۰ | ۵ | ۲ | ۷ |
| | | بایو ټکنالوژی | ۰ | ۲ | ۱ | ۳ |
| | | کرنیزه میکانیزه | ۰ | ۲ | ۲ | ۴ |
| | | نباتاتو اصلاح او تخمونو تکثیر | ۰ | ۴ | ۰ | ۴ |
| | | ځنګلونه او طبیعي منابع | ۰ | ۴ | ۱ | ۵ |
| | | خاوره پوهنه او اوبو لګونه | ۱ | ۵ | ۰ | ۵ |
| ټول | | ۸ | ۷ | ۳۰ | ٦ | ۴۲ |
| ۲ | حیواني علوم | حیواناتو اصلاح او روزنه | ۰ | ۱ | ۳ | ۴ |
| | | مالداري | ۰ | ۱ | ۲ | ۳ |
| | | د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسس | ۰ | ۰ | ۳ | ۳ |
| | | د الوتونکو، ماهیانو او شاتو مچیو روزنه | ۰ | ۱ | ۴ | ۵ |

(۵) **جدول:** د پوهنځی او څانګې په تفکیک د استادانو د تحصیلي سویې احصائیه ۱۴۰۴

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **ټول** | | ۴ | ۰ | ۳ | ۱۲ | ۱۵ |
| ۳ | **کرنیز اقتصاد او توسعه** | کرنیز اقتصاد | ۰ | ۱ | ۴ | ۵ |
| | | کرنیزه توسعه | ۱ | ۲ | ۰ | ۳ |
| | | اګریبزنس | ۰ | ۵ | ۱ | ٦ |
| | | مارکېټېنګ | ۰ | ۱ | ۳ | ۴ |
| | | اسلامي ثقافت | ۰ | ۲ | ۵ | ۷ |
| **ټول** | | ۴ | ۱ | ۱۱ | ۱۳ | ۲۵ |
| ۴ | **وترنری** | کلینیک | ۰ | ۱ | ۲ | ۳ |
| | | پری کلینیک | ۱ | ۲ | ۰ | ۳ |
| | | پارا کلینیک | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ |
| | | اساسي علوم | ۰ | ۳ | ۴ | ۷ |
| **ټول** | | ۴ | ۲ | ۷ | ۷ | ١٦ |
| **ټول** | | | ۱۱ | ۴۸ | ۴۱ | ۱۰۰ |

## مسلکي پرمختیائي مرکز (PDC) امریت

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د مسلکي پرمختیائي مرکز امریت په (۱۴۰۲) هـ ش کال کښې د لوړو زده کړو وزارت لخوا رامنځته سوی دی. یاد امریت د پوهنتون د مهمو امریتونو له جملې څخه ګڼل کیږي. مسلکي پرمختیائي مرکز امریت په تدریس او زده کړه، د ښې رهبرۍ او مدیریت، څېړنو او نورو تخنیکي برخو کښې د استادانو او کارمندانو د مسلکي پوهي د لوړولو په برخه کښې د لازمو مسلکي، روزنیزو برنامو او امکاناتو په برابرولو، مدیریت کولو، رسولو او ارزولو کښې کار کوي. مسلکي پرمختیائي مرکز د وزارت او پوهنتون اهدافو او ستراتیژیو ته په کتو او خپل ستراتیژیکو موخو په ټاکلو سره خپل لرلید، رسالت او موخي ټاکلي او په لاس ته راوړلو کښې ئې خپله پوره هڅه کوي.

## د کیفیت د لوړاوي امریت

د اناستو پوهنتون د کیفیت د لوړاوي امریت د لوړو زده کړو وزارت لخوا په (۱۴۰۱) هـ ش کال کښې منظور سوی دی، دا امریت د پوهنتون د مهم ترینو امریتونو له جملې څخه دي، چي د پوهنتون د کیفیت د لوړاوي په منظور ایجاد سوی دی. د دې مرکز تر څنګ د پوهنتون د کیفیت د لوړوالي په موخه د کیفیت د لوړاوي کمېټه، چي د پوهنتون د ټولو معاونینو په ګډون د ټولو پوهنځیو رئیسان ئې غړیتوب لري، هم فعالیت لري تر څو د یاد امریت او پوهنتون د کیفیت د لوړاوي په برخه کښې همکاري وکړي. اوس مهال د اناستو پوهنتون د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوني لومړۍ مرحله په بریالیتوب سره ترلاسه کړې او د نورو مرحلو د ترلاسه کولو لپاره هڅې رواني دي.

# د علمي څېړنو معاونيت

علمي څېړني زياتره په علمي مراکزو کښي د مسلکي اشخاصو لخوا پر مخ وړل کيږي، چي هدف ئې د يوې ټولني پر وړاندي د موجوده ستونزو راسپړل او هغوی ته د څېړنو په مټ د حل يوه اساسي لاره موندل دي. د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون همدې اړتيا ته په کتو د لوړو زده کړو وزارت په خاصي پاملرني او د څېړنې، تأليف او ژباړي محترم رياست په پوره همکارۍ په (۱۴۰۲) هـ ش کال په اناستو پوهنتون کښي د علمي څېړنو معاونيت رامنځته سو. ياد معاونيت په خپل تشکيلاتي جوړښت کښي درې امريتونه (علمي څېړنو امريت، علمي مجلې امريت، څېړنيز فارم امريت) او د کتابتون مديريت لري.

## لرليد

علمي څېړنو معاونيت به د کره او پر نړيوال معيارونو برابرو څېړنو په مرسته داسې يو چاپېريال رامنځته کړي، څو د کرهنې او مالدارۍ په برخه کښي په ملي او نړيواله کچه پرمختګونو او ځان بسيانې ته زمينه برابره کړې او ترڅنګ به د استادانو، محصلينو او څېړونکو نوښتونو، خلاقيت، پوهې او څېړنيز ظرفيت لوړوني ته لاره هواره کړي.

## رسالت

علمي څېړنو معاونيت هڅه کوي، څو د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون کښي د موجوده کادري غړو، محصلينو، پراخه څېړنيزي ساحې، کرنيزي او لابراتواري ماشينري په مټ په نړيوالو معيارونو برابري څېړني ترسره کړي، څو د همدې لارې د کرهنې او مالدارۍ په وړاندي پرتې ستونزي هواري، په هيواد کښي غذايي امنيت او مصؤنيت خوندي کړي او ترڅنګ ئې د ملي اقتصاد د پياوړتيا سبب وګرځي.

## موخي

- په ملي او نړیواله کچه علمي څېړنو ته وده او پرمختګ ورکول؛
- د هیواد په کچه د کرهنې او مالدارۍ پر وړاندې پرتې ستونزې راسپړل او د کره او معیاري څېړنو له لارې هغوی ته د حل لارو موندل؛
- د علمي څېړنو په مټ په هیواد کښې عصري او میکانیزه کرنیز سیستم رامنځته کول؛
- د استادانو، محصلینو او څېړونکو علمي او څېړنیز ظرفیت لوړول او په همدې برخه کښې د دوی نوشتونو او خلاقیت ته وده او پرمختګ ورکول.




(۳) **ګراف:** د اناستو پوهنتون د علمي څېړنو معاونیت تشکیلاتي جوړښت.

**د علمي څېړنو امریت**

د علمي څېړنو معاونیت تر چتر لاندي د علمي څېړنو امریت د ملي او نړیوالو علمي کنفرانسونو د دایرولو، د استادانو د څېړنو، تألیف او ژباړي علمي اثارو د کتني او اصلاح، د څېړنو په برخه کښي د ظرفیت لوړوني روزنیز پروگرامونو او پوهنتون کښي د ټولو علمي څېړنو څخه د څار او نظارت دنده پر غاړه لري. د علمي څېړنو امریت د لومړي ځل لپاره په (۱۳۹۹) هـ ش کال د علمي معاونیت تر چتر لاندي ایجاد او وروسته د علمي څېړنو معاونیت د ایجاد سره سم د همدغه معاونیت تر چتر لاندي خپل فعالیتونه د دندو د لایحو مطابق د ټولني د پرمختیا لپاره مخته وړي.

**د زرغون نوښت علمي – څېړنیزه مجله**

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د استادانو، د علمي څېړنو نتیجې د مسلک تر خاوندانو، څېړونکو، محصلانو، کروندګرو او مالدارانو پوري رسوي. په (۱۴۰۱/۱۰/۲۷) نېټه ئې د لوړو زده کړو وزارت د څېړني، تألیف او ژباړي له ریاست څخه د فعالیت سند، چي د امتیاز خاوند ئې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون دی، ترلاسه کړ چي د کرهنې او مالدارۍ د سکتور علمي، تحقیقي او ژباړل سوي مقالې خپروي.




(۴) **گراف:** د علمي څېړنيزي مجلې کتنپلاوي.

### د څېړنيز فارم پېژندنه

څېړنيز فارم د پوهنتون د تأسيس سره سم په (۱۳۹۱) هـ ش کال د پخواني ترنک فارم څه کم (۵۰۰۰) جريبه ځمکه د وخت د جمهور رئيس په حکم د زارعت وزارت له لوري د لوړو زده کړو وزارت په تشکيل کښې د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون ته د څېړنې، توليد او ترويج په موخه وسپارل سوه، چې د علمي چارو معاونيت تر چتر لاندې ئې فعاليت کولو او بيا په (۱۴۰۲) هـ ش کال کښې د علمي څېړنو معاونيت په ايجاد سره په همدې معاونيت پورې وتړل سو.

**د لابراتوار پیژندنه**

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون لابراتوار د هیواد په کچه د پرمختللو لابراتوارونو له جملې څخه دي، چې کولای سي د خپلو عصري ماشین الاتو، کیمیاوي موادو، مجربو استادانو او تکنیشنانو په مرسته د خاوري، اوبو او نبات عملي تجربې ترسره کړي. د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د لابراتوار تر جوړیدو مخکي د تکنیشنانو او کارکوونکو د علمي کچي د لوړولو په موخه د خاوري، اوبو او نبات عملي تجربې د هیواد څخه بهر سرته رسېدلي او په دي برخه کښي ئې اړیني زده کړي ترسره کولي. دا چي په هیواد او ملي پوهنتون کښي د مجهزو لابراتوارونو د جوړېدو اړتیا ډیره احساسیدله، نو د پوهنتون د رهبرۍ او پلان سره سم د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون کښي د یوه عصري لابراتوار د جوړیدو کار په (۱۳۹۵) هـ ش کال کښي د افغان دولت او هندوستان هیواد په مالي مرسته پیل او په (۱۳۹۷) هـ ش کال کښي ئې د جوړیدو چاري پای ته ورسیدي او ګټي اخیستني ته چمتو سو، چي اوس مهال محصلین او تحقیق کوونکي کولای سي د لابراتوار د عملي کړنو په مرسته ځانونه یوې مثبتي پایلي ته ورسوي ترڅو د خاوري مختلیف ډولونه او په مختلیفو خاورو کښي د نبات رشد مطالعه کړي.

**فعالیتونه**

- منظم او فعاله لابراتوار؛
- فعاله او مسلکي تکنیشنان؛
- ستنډرډ او معیاري ماشین الات درلودل.

**هدفونه**

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د لابراتوار ځانګه د مجهز او عصري ماشین الاتو په درلودلو سره غواړي، د څېړنو لمن پراخه او په دې توګه د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کښي رغنده رول و لوبوي.

## د کتابتون پيژندنه

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون کتابتون چې د (دوکتور حضرت مير توتاخيل) په نامه سره دي، د پوهنتون د تاسيس سره سم په (۱۳۹۲) هـ ش کال کښې رامنځته سوي دي. د (۱۳۹۲) هـ ش کال څخه بيا تر (۱۳۹۸) هـ ش کال پوري ئې (۴۰۰۰) جلده کتابونه چې ټول ئې د ماسټرۍ برنامو مربوط وه، شتون درلود. د لوړو زده کړو وزارت د هدايت پر اساس کله چې د کندهار پوهنتون څخه د زراعت پوهنځی د اناسټو پوهنتون ته را انتقال سوه، نو د کندهار پوهنتون د عمومي کتابتون څخه ټول هغه کتابونه چې د زراعت سره ئې تړاو درلود د اناسټو پوهنتون عمومي کتابتون ته را انتقال سوه چې په دي سره ئې د کتابونو شمېر (۹۰۰۰) جلده ته لوړ سو.

### لرليد

په ملي او نړيواله کچه استادانو او محصلينو ته د علمي څېړنيزو اثارو، کتابونو او مجلو د اسانتياوو لپاره چوپړ رامنځته کول.

### رسالت

د کتابتون مديريت ژمن دی چې د پوهنتون استادانو او محصلينو ته په کتابتون کي د مطالعي او علمي هڅو فرهنګ ته وده ورکړي، په کتابتون کي محصلينو ته د اسانتياوو برابرولو او مطالعي د پلي کولو لپاره د علمي لارې د ټولنې د پرمختګ لپاره دوامداره د خپل کوښښ پلي کولو کي هڅه ترسره کړي ده.

### موخي

- منظم او فعاله لابراتوار؛
- فعاله او مسلکي تکنيشنان؛
- ستندرډ او معياري ماشين الات درلودل.

## د مالي او اداري چارو معاونیت

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د تأسیس سره سم، چې په خپل تشکیل کښې ئې د نورو معاونیتونو ترڅنګ په (۲) بست کښې د مالي او اداري چارو معاونیت هم منظور سو، چې اوس مهال ئې مشرتوب ښاغلي مولوي عبدالستار (حقاني) کوي. د مالي او اداري چارو معاونیت په خپل تشکیل کښې د کارکوونکو چارو ، نشراتو، مالي او حسابي، د تهیه او تدارکاتو (۴) امریتونه، او (۲) عمومي مدیریتونه لکه د معلوماتي ټکنالوژۍ عمومي مدیریت او د لیلیې عمومي مدیریت لري. د کارکوونکو چارو امریت د پوهنتون د کارمندانو د استخدام، تبدیلۍ، منفکۍ، تقاعد، د حاضري کنټرول او تشکیلاتي او تعیناتي چارې مخته وړي. د مالي او حسابي چارو امریت د پوهنتون د اړتیا وړ عادي او انکشافي بودیجه اماده او له مخې اجراات کوي. د پوهنتون د ټولو منسوبینو معاشات، اضافه کاري، امتیازات او نور مادي حقوق محاسبه او اجراء کوي. د تهیه او تدارکاتو امریت د پوهنتون اړوند زیربناوو جوړول، بریښنا، اوبه، سرسبزي او چاپېریال ساتنه، تنظیفات، ټرانسپورټ او د اداري لپاره تجهیزات او سهولتونه برابروي. د نشراتو امریت د پوهنتون د لاسته راوړنو، فعالیتونو، غونډو او کنفرانسونو ګزارشونه په کتبي او انلاین ډول تنظیم او اداره کوي. د لیلیې عمومي مدیریت د ټولو محصلینو لپاره اعاشه او اباطه، بدل اعاشه او د هستوګنې امکانات برابروي. د معلوماتي ټکنالوژۍ عمومي مدیریت د پوهنتون د استادانو، محصلینو او کارمندانو لپاره انټرنیټي اسانتیاوي چمتو او د ځانګړي سیسټم په کارولو سره هغه کنټرولوي. د مالي او اداري چارو په معاونیت کښې د پوهنتون د نورو برخو په څېر وړ او تجربه لرونکي کارمندان شتون لري چې د هغو په مټ ټولي اداري او اکاډمیکي چاري په ښه توګه ترسره کیږي.

**لرلید**

د مالي او اداري چارو معاونیت د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د رهبري، اداري او علمي برخو سره په ګډه کار کوي، ترڅو د پوهنتون لپاره د کارکوونکو، مالي او تدارکاتو برخو کښي غوره او باکیفیته خدمات وړاندي کړي.

**رسالت**

په اسلامي او ملي روحیه د مسلکي او تخصصي بشري ځواک روزنه او د مالي او تدارکاتي برخو اړوند خدمات وړاندي کول.

د کاري فعالیتونو د مؤثره اجراء او کاري سطحي د لوړولو په موخه د مالي او اداري پالیسیو طرحه کول.

د پوهنتون د ټرانسپورټ، معلوماتي ټکنالوژۍ د وسایلو د ترمیماتو خدمتونو، کارکوونکو ، تهیه او تدارکاتو ، مالي، نشرات او حفظ و مراقبت سیستمونو باندي د غوره خدمتونو د وړاندي کولو په موخه نظارت او کنټرول ترسره کول.

**ارزښتونه**

- ✓ د اسلام مقدس دین د ارزښتونو رعایت او ساتنه؛
- ✓ صداقت، انصاف، متقابل احترام او د صمیمانه چاپېریال ساتنه؛
- ✓ امنیت او ټولنیز عدالت؛
- ✓ نوښتونو او خلاقیت ته پاملرنه؛
- ✓ په چارو کښي مؤثریت او اغیزمنتوب ته ژمنتیا؛
- ✓ د ټولو ورځنیو چارو سالم مدیریت په چارو کښي روڼوالی او د فساد په مقابل کښي کلکه مبارزه.




**(۵) ګراف:** د مالي او اداري چارو معاونیت تشکیلاتي چارټ.

**هغه پروژې چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري منظور سوي او فعلاً ئې چاري دوام او د تکمیل په حالت کښې دي.**

- ☑ د مختلفو تحقیقاتي فارمونو جوړول؛
- ☑ د نقلیه وسایطو لپاره د پارکینګونو جوړول؛
- ☑ اسامه بن لادن (رح) باغ په اساسي ډول جوړول؛
- ☑ دوه نور تدریسی تعمیرونه جوړول؛
- ☑ کانتین یا کیپټریا جوړول؛
- ☑ د ورزشي کلب او جمنازیوم جوړول؛
- ☑ د درسي صنفونو او ادارو د مجهز کولو لپاره فرنیچر؛
- ☑ عمومي د غونډو تالار؛
- ☑ د مسجد شریف پراخول؛
- ☑ د حیواني کلینیک جوړول؛
- ☑ د ماهیانو مختلف فارمونه جوړول؛
- ☑ (۲۰۰) جریبه تحقیقاتي ځمکي باندي د فینس راګرځول؛
- ☑ مجهزکمپیوټر لیب جوړول؛
- ☑ لس عدده لویي برمې؛
- ☑ د قطره یي اوبو رسوني سیستم نصبول؛
- ☑ د صحي کلینیک جوړول؛
- ☑ د میلمستون جوړول.

# د اړیکو او انسجام معاونیت

د افغانستان د کرنیزوعلومو او ټکنالوژۍ ملی پوهنتون د پنځو معاونیتونو د جملې څخه یو هم د اړیکو او انسجام معاونیت دی، چې په کال (۱۳۹۱) هـ ش کښې د پوهنتون د تأسیس سره سم ایجاد سوی، چې اوس مهال ئې مشرتوب ښاغلی پوهنیار فرید احمد(ولي) کوي، یاد معاونیت پخپل تشکیل کښې دوه امریتونه (د داخلي اړیکو امریت او د بهرنیو اړیکو امریت) او یو د اجرائیه مدیریت بستونه لري. د اړیکو او انسجام معاونیت تر اوس مهاله توانېدلی دی، چې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون اړیکي په افغانستان کښې داخل د مختلفو پوهنتونونو، دولتي ادارو، او د هیواد څخه بهر پوهنتونونو، مؤسیساتو سره ټینګي کړي، ترڅو په مټ ئې د کرهنې او مالدارۍ په برخو کښې نوښتونه، اصلاحات او لاسته راوړني ولري.

**لرلید**

د اړیکو او انسجام معاونیت د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د هیواد داخل او بهر کښې د پوهنتونونو، مؤسیساتو او نورو ذیدخله ارګانونو سره د دوه/ څو اړخیزو اړیکو د تنظیم او لاسلیکولو لپاره کار کوي ترڅو پوهنتون د نړۍ د پرمختللو او پېژندل سوو پوهنتونونو او اکاډمیکو مؤسیساتو  په کتار کښې و اوسي.

**ماموریت**

د اړیکو او انسجام معاونیت د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د تدریس، تحقیق، تولید او ترویج په برخو کښې د نړۍ د مختلفو هیوادونو د پوهنتونونو او تحقیقاتي مرکزونو سره اړیکي جوړي کړي او د ګډو تفاهم لیکونو له لاري به د نړۍ د پرمختللو هیوادونو د پوهنتونونو څخه مختلف نظریات، نوښتونه، مرستي، تحصیلي بورسونه او د ظرفیت لوړوني برنامې لاسته راوړي چي د همدې لاري به پوهنتون نه یوازي د هیواد دننه، بلکه د نړۍ مختلفو هیوادونو ته ور وپېژندل سي.

## موخي

- اسلامي او شرعي ارزښتونو ته په احترام د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د ټکنالوژۍ، نړيوال منل سوو ميتودونو او ماډلونو په کارولو سره د هيواد او سيمي په کچه د يو خوځنده، نوښتگر او پايداره ارگان په توگه معرفي کول.
- د نړيوالو زيدخلو ارگانونو سره د هر اړخيزو اړيکو د جوړولو او برابرولو په مرسته د کره معلوماتو په عملي کولو او شريکولو سره د کرهنيي او مالدارۍ په برخو کښي موجوده سته ستونزو ته د پای ټکی ايښودل.




(٦) **گراف:** د اړيکو او انسجام معاونيت تشکيلاتي چارټ.

# د هوکړه لیکونو او علمي تواميتونو جدول

| شمیره | ښکیل لوري | د هوکړه لیک اداره |
| --- | --- | --- |
| ۱ | نړیوالی/بهرنی اداري | Indian Council of Agriculture and Research ( ICAR ) . India |

(٦) **جدول**: د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د بهرنيو ادارو سره د کړې همکاريو هوکړه ليکونه.

| شماره | تشکیل لوري | د هوکړه لیک اداره |
|---|---|---|
| ۱ | داخلي اداري | ملالی پوهنتون. کندهار |
| ۲ | | د کندهار ښاروالي ریاست. کندهار |
| ۳ | | د کندهار پوهنتون. کندهار |
| ۴ | | د کندهار ملي ټلویزیون او شریعت ږغ راډیو. کندهار |
| ۵ | | د کندهار چاپیريال ساتني ریاست. کندهار |
| ۶ | | د کندهار تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریت. کندهار |
| ۷ | | د کندهار اقتصاد ریاست. کندهار |
| ۸ | | د کندهار د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری ریاست. کندهار |
| ۹ | | د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون. کابل |
| ۱۰ | | د کندوز پوهنتون. کندوز |
| ۱۱ | | د زابل میرویس خان نیکه پوهنتون. زابل |
| ۱۲ | | د دایکندي پوهنتون. دایکندي |
| ۱۳ | | د فراه پوهنتون. فراه |
| ۱۴ | | د هرات پوهنتون. هرات |
| ۱۵ | | د بامیان پوهنتون. بامیان |
| ۱۶ | | د اروزګان پوهنتون. اروزګان |

(۷) **جدول**: د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د داخلي ادارو سره د کړې همکاریو هوکړه لیکونه.

## د محصلانو چارو معاونیت

د محصلانو چارو معاونیت په (۱۴۰۰) هـ ش کال کښې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون په تشکیل کښې د لوړو زده کړو وزارت له لوري د دوهمه درجه کادري بست په توګه ایجاد کړ او په خپل تشکیل کښې د محصلانو چارو عمومي مدیریت، د فارغانو چارو عمومي مدیریت، د محصلانو، خدماتو او انسجام عمومي مدیریت، د محصلانو چارو معاونیت اجرائیه مدیریت او دوه اتم بستونه لري.

**لرلید**

د محصلانو چارو معاونیت د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د رهبري، اداري او علمي برخو سره په ګډه کار کوي، تر څو ټولنې ته داسې مسلکي، تخصصي او په کار پوه بشري ځواک وروزي، چې د ټولنې د پراختیا او هوساینې لپاره غوره او باکیفیته خدمات وړاندي کړي.

**رسالت**

په اسلامي او ملي روحیه د مسلکي او تخصصي بشري ځواک روزنه.

**عمده دندې**

- د مؤمن، متخصص، او با احساسه ځوان کهول روزنه؛
- مناسب زده کړه ییز چاپېریال رامنځته کول او د مؤثرو خدماتو وړاندي کول؛
- په خپل وخت او پرته له ځنډه د فارغو محصلانو اسناد پروسس کول؛
- د محصلانو لپاره د عملي کارونو زمینه برابرول؛
- د محصلانو لپاره د وړتیا لوړوني د سیمینارونو،کنفرانسونواو ورکشاپونو دایرول؛
- د محصلانولپاره د لیلیې او بدل اعاشې خدمات وړاندي کول؛
- د محصلانو د نظم او ډسپلین څار او کنټرول؛

- محصلانو ته د مناسبي بدني روزني او تفریح په موخه سپورتي سهولتونو برابرول؛
- د محصلانو د ذهني پیاوړتیا په موخه ذهني، علمي او کلتوري پروګرامونه په لاره اچول؛
- د هیواد او نړۍ په کچه محصلینو ته د علمي سفرونو او سکالرشیپونو برابرول؛

**موخي**

**۱ـ د علم خپرولو او محصلانو د روزني ستراتیژیک هدف**

- د محصلانو ظرفیت لوړول؛
- په پوهنځیو کښي د تدریسي بهیر د لاښه والي لپاره تدابیر نیول؛
- د زده کړو کیفیت لوړولو په برخه کي هڅي.
- په داخلي او خارجي علمي پروګرامونو او کنفرانسونو کښي د محصلانو د ګډون هڅه؛
- د محصلانو اړتیاوي په نښه کول او هغوی ته پر وخت رسیدګي کول؛
- په مختلفو برخو کښي د محصلانو لپاره د عامه پوهاوي او مشوره ورکولو پروګرامونه په لاره اچول؛
- داخلي او بهرني علمي مسابقي او فرهنګي فعالیتونه؛
- د کتابخانې سربېره د محصلانو لپاره د معتبرو الکترونیکي - علمي سرچینو څخه د استفادې زمینه برابرول؛

**۲ـ د محصلانو د رهبرۍ د ښه والي او انکشاف ستراتیژیک هدف**

- د محصلانو چارو اړوند ټولو قوانینو،مقرراتو، لایحو، طرزالعملونو او پالیسیو عملي کول؛

- د محصلانو په چارو کښې د عدالت او انصاف څخه نظارت؛
- د محصلانو چارو اړوند د پوهنتون د کمېټو د فعالیتونو ارزونه؛
- د مؤثریت او اسانتیاوو په موخه د محصلانو اړوند د معلوماتو د ثبت پروسې تنظیم او عصري کول؛
- د رونتیا او اغیزمنتوب په موخه د الکترونیکي ډیټابیسونو څخه استفاده؛
- د محصلانو د لیلیې او بدل اعاشې امکاناتو په برخه کښې اسانتیاوې؛
- د تحصیلي اسنادو د وېش څار او کنټرول؛
- د فساد په وړاندې کلکه مبارزه.

**ارزښتونه**

- ✓ د اسلام مقدس دین د ارزښتونو رعایت او ساتنه؛
- ✓ صداقت، انصاف، متقابل احترام او د صمیمانه فضا ساتنه؛
- ✓ د وطن دوستۍ او ولس ته خدمت د ریښتونې قوي روحیې ساتنه؛
- ✓ امنیت او ټولنیز عدالت؛
- ✓ نوښتونو او خلاقیت ته پاملرنه؛
- ✓ په چارو کښې مؤثریت او اغېزمنتوب ته ژمنتیا؛
- ✓ په چارو کښې رونوالی او د فساد په مقابل کښې کلکه مبارزه.

**کمېټې:**

- ✓ د ازموینو کمېټه.
- ✓ د سپورټ کمېټه.
- ✓ د محصلانو کمېټه.
- ✓ مشوره تي کمېټه




(۷) **گراف:** د محصلانو چارو معاونیت تشکیلاتي چارټ.

| گڼه | پوهنځی | کال | | | | | | | | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ | ۱۳۹٦ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | |
| د دوکتورا په کچه | | | | | | | | | | | |
| ۱ | نباتي علوم | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲ | نباتي علوم | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳ | کرنیزاقتصاد او توسعه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| د ماسټری په کچه | | | | | | | | | | | |
| ۱ | نباتي علوم | ۰ | ۲۱ | ۰ | ۱۸ | ۰ | ۰ | ۲۰ | ۴۷ | ۰ | ۱۰٦ |
| ۲ | حیواني علوم | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۹ | ۰ | ۹ |
| د لیسانس په کچه | | | | | | | | | | | |
| ۱ | نباتي علوم | | | | | | ۱۲۱ | ۹۱ | ۷۳ | ۵۵ | ۳۴۰ |
| ۲ | وترنری علوم | | | | | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳ | کرنیزاقتصاد او توسعه | | | | | | ۱۷ | ۴۵ | ۳٦ | ۴۱ | ۱۳۹ |
| ۴ | حیواني علوم | | | | | | ۰ | ۲۹ | ۱٦ | ۱۸ | ٦۳ |

(۸)**جدول:** د تأسیس کال څخه تر (۱۴۰۳) هـ ش کال پوري د فارغو محصلانو احصائیه.

## د محصلینو شمولیت او کریکولم

د افغانستان د کرنیزو علومو اوټکنالوژۍ ملي پوهنتون کښي د محصلینو جذب د هیواد د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو او طرزالعمل مطابق د عمومي کانکور له لارې ترسره کیږي، چې دا تګلاره د هیواد د ټولو پوهنتونونو لپاره په خپلو برخو کښې پلي کیږي. د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون چې یو ځوان تحصیلي بنسټ دی، د ټولو برخو لپاره د لویو او معتبرو پوهنتونونو د کریکولم څخه، چې د لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي نصاب د کمېسون له لوري تائید سوی دی، استفاده کیږي.

## د محصلینو د کامیابیو د نمراتو تشریح

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د محصلینو د ټولو فعالیتونو لکه، تأجیل، منفکي، محرومي، کامیابي او ناکامۍ لپاره د لوړو زده کړو وزارت د کریډیټ سیستم د لایحي څخه استفاده کوي، چې په لاندي جدول کښي ئې د نمراتو تشریح ښودل کیږي.

| | | |
|---|---|---|
| A | = | 90-100 |
| B | = | 80-89 |
| C | = | 70-79 |
| D | = | 55-69 |
| F | = | <55 |

(۹)**جدول:** د تحصیلي نمراتو اوسط.

# د نباتي علومو پوهنځی

نباتي علومو پوهنځی د هیواد د لوړو زده کړو وزارت له لوري د ځانګړي اداري چوکاټ له لخوا اداره کیږي، چي د یو عمومي مسؤل تر نظارت لاندي هر ډیپارټمنټ ئې ځانګړی تشکیل او کاري څواک لري، د یادوني وړ ده، چي نباتي علومو پوهنځی اوس مهال ټول ټال (۴۲) تنه استادان، (۱۰) تنه محصلین په فوق لیسانس برنامو چي د فراغت په درشل کښي دي او (۳۰) تنه نور په دریو اګرانومي، هارټیکلچر او نبات ژغورني څانګو کښي د هند د زراعتي تحقیقاتو انسټیټیوت سره په همکارۍ په زده کړو بوخت دي. (۱۱۰) تنه محصلین د لیسانس برنامې په مختلفو څانګو کښي عملاً په تدریسي او عملي چارو بوخت دي.

## لرلید

د نباتي علومو پوهنځی به په لوړ کمیت او کیفیت سره د نباتي تولیداتو د تولید، نباتي نسلونو د اصلاح او دودیزو کرنیزو چارو عصري کولو په برخه کښي د هیواد په کچه د لیسانس او فوق لیسانس علمي کادرونو او ظرفیتونو د روزلو په برخه کښي لوی مرکز وي.

## رسالت

نباتي علومو پوهنځی هڅه کوي، چي د علمي کادرونو په واسطه د پرمختللي او عصري ټکنالوژۍ سمبال علمي، تدریسي، تولیدي، څېړنیز او روزنیز چاپېریال په رامنځته کولو سره د هیواد د کروندګرو د اقتصادي پیاوړتیا سبب وګرځي.

**موخې**

- د ليسانس، ماسټرۍ او دوکتورا په کچه د علمي کادرونو روزل؛
- د کرنيزو محصولاتو کميت او کيفيت ته پراختيا ورکول؛
- د هيواد په کچه د کرهنې په برخه کښې د نوې ټکنالوژۍ او د کرهنې عصري طريقو رواجول او د في واحد ځمکې څخه زيات حاصلات لاسته راوړل؛
- پر محلي او اصلاح سوو نباتي نسلونو باندې علمي څېړنې ترسره کول او د هغوی مثبتې پايلې ترويجول؛
- د ملي، سيمه ايزو او بهرنيو تحصيلي او څېړنيزو مؤسساتو سره اړيکې ټينګول، تر څو علمي او څېړنيزې لاسته راوړنې له يو بل سر شريکې کړو؛
- د پورته موخو د لاسته راوړلو لپاره په لوړه سطحه داسې علمي کادرونه روزل چې اسلامي مقدساتو او افغاني کلتور ته وفادار پاتې سي او د هيواد د کرنيز سکټور د پراختيا او انکشاف سبب وګرځي.

**ارزښتونه**

- د يوې سپېڅلې او اسلامي روحيې په شتون سره وطن پالنه؛
- معياري او باکيفيته لوړې زده کړې؛
- د څېړنې بډاينه؛
- سالمه اداره او اغېزمنه رهبري؛
- اکاډميکه آزادي رامنځته کول؛
- حساب ورکونه؛
- په کارونو کښې شفافيت او د فساد مخنيوي؛
- د هر قسم تبعيض څخه ډډه کول؛




(۸)**گراف:** د نباتي علومو پوهنځی د رهبری او څانګو تشکيلاتي چارټ.

## تحصيلي سوابق

د نباتي علومو پوهنځی له خوا تدريسی، علمي، عملي او نظري کړني په منظم او منسجم ډول د (۴۲) تنو مجربو استادانو له خوا مخته وړل کيږي، چي فعلاً په دغه پوهنځی کښي د (۲۹) تنو مجربو استادانو د ماستری او (۸) تنو نورو د دوکتورا تر کچي زده کړي بشپړي کړي دي.

| شماره | په تفکيک سره د نباتي علومو پوهنځی برحاله د تحصيلي رتبو محصلان او استادان | |
|---|---|---|
| ۱ | ليسانس | ۵ |
| ۲ | ماستر | ۲۹ |
| ۳ | دوکتور | ۸ |
| ۴ | ماستری محصلان | ۳۰ |
| ۵ | ليسانس محصلان | ۱۱۰ |

(۱۰) **جدول:** د نباتي علومو پوهنځی برحاله استادان او محصلانو د تحصيلي رتبې په اساس.

| شماره | خانګه | پروګرام | تحصیلي دوره | د فارغ التحصیل محصلانو تعداد | د فراغت کال |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اګرانومي | ماستري | لومړی | ۲۱ | ۱۳۹۵ |
| | | | دوهمه | ۱۹ | ۱۳۹۷ |
| | | | درېیمه | ۲۰ | ۱۴۰۰ |
| | | لیسانس | لومړی | ۲۷ | ۱۴۰۰ |
| | | | دوهمه | ۲۲ | ۱۴۰۱ |
| | | | درېیمه | ۱۱ | ۱۴۰۲ |
| | | | څلورمه | ۲۴ | ۱۴۰۳ |
| | | | پنځمه | ۹ | ۱۴۰۴ |
| ۳ | هارتیکلچر | ماستري | لومړی | ۱۷ | ۱۴۰۱ |
| | | لیسانس | لومړی | ۲۶ | ۱۴۰۰ |
| | | | دوهمه | ۲۱ | ۱۴۰۱ |
| | | | دریمه | ۲۹ | ۱۴۰۲ |
| | | | څلورمه | ۱۲ | ۱۴۰۳ |
| | | | پنځمه | ۱۵ | ۱۴۰۴ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | نبات ژغورنه | ماستري | لومړی | ۹ | ۱۴۰۱ |
| | | لیسانس | لومړی | ۳۸ | ۱۴۰۰ |
| | | | دوهمه | ۳۰ | ۱۴۰۱ |
| | | | دریمه | ۵۵ | ۱۴۰۲ |
| | | | څلورمه | ۲۳ | ۱۴۰۳ |
| | | | پنځمه | ۱۳ | ۱۴۰۴ |
| **مجموعه** | | | **۴۴۱** | | |

(۱۱) **جدول:** د نباتي علومو پوهنځی فارغ التحصیل محصلانو تعداد.

| **د برحاله استادانو شمېر** | | |
|---|---|---|
| **گڼه** | رتبه | تعداد |
| ۱ | پوهاند | ۱ |
| ۲ | پوهنوال | ۲ |
| ۳ | پوهندوي | ۵ |
| ۴ | پوهنمل | ۱۱ |
| ۵ | پوهنیار | ۱۸ |
| ٦ | نوماند پوهنیار | ۵ |
| ۷ | پوهیالی | ۰ |
| | **ټول شمېر** | **۴۲** |
| **د محصلانو شمېر** | | |
| **شماره** | **د تحصیل دوره** | **شمېر** |
| ۸ | ماستری | ۳۱ |
| ۹ | لیسانس | ۱۱۰ |
| | **ټول شمېر** | **۱۴۱** |

(۱۲) **جدول**: د علمي کادرونو علمي رتبې او د موجوده محصلینو احصائیه.




(۹)**ګراف**: د نباتي علومو پوهنځی د څانګو چارټ.

# د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی

د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی، چې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د ایجاد سره سم په (۱۳۹۱) هـ ش کال کښې تأسیس سوي ده او ورسره دوي ځانګي د (کرنیز اقتصاد او کرنیزي توسعې) ئې په خپل تشکیل کښې درلودې، په (۱۳۹۶) هـ ش کال د سیمي په کچه ضرورتونو ته په کتلو سره ئې دریمه ځانګه د کرنیز مارکېټنګ په نامه هم په خپل تشکیل کښې اضافه کړل.
د لومړنیو دریو ځانګو په درلودلو سره په (۱۳۹۹) هـ ش کال اناستو پوهنتون ته د کندهار پوهنتون څخه د لیسانس په کچه د کرهنې پوهنځی د انتقال او ادغام په نتیجه کښې د اګریبزنس ځانګه د پوهنځی تر چتر لاندي سول او د لوړو زده کړو وزارت د عالي شورا د (۲۱ / ۳ / ۱۴۴۳) نېټه د (۷) ګڼه پروتوکول په پایله کښې (کرنیز اقتصاد او کرنیزي توسعې) ځانګو ته د فوق لیسانس (ماسټرۍ) برنامو د فعالیت اجازه ورکړل سوه.
یاده پوهنځی د ځانګړو کادري استادانو او اداري پرسونل په درلودلو سره د پوهنځی په راس کښې رئیس او په داخل کښې د ځانګو امریتونه شتون لري چې هره ځانګه ئې ځانته ځانګړی تشکیل او علمي کادري غړي لري.

**لرلید**

دکرنیز اقتصـاد او توسـعې پوهنځی زیار باسي، چې په ملي سـطحه داسي علمي کادرونه وروزي؛ څو پر مختللی څېړنیز چاپېریال رامنځته کړي او د ټکنالوژۍ په مټ غوره کرنیز سیستم رامنځته سي.

**رسالت**

دکرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی کوښښ کوي، چې دپرمختللي اقتصادي کرنیز سیستم په منځته راتګ سره به د لیسانس او مافوق لیسانس په کچه علمي کادرونه وروزي په کرنیزه برخه کښې به علمي څېړني او د کرنیزي ټکنالوژۍ په وسیله به

غوره کرنیز سیستم وهڅوی، ترڅو کرنیزو محصولاتو ته اساسي بازار موندنه پیدا، او دکروندګرو د ژوند کچه لوړه او دهیواد د اقتصادي پیاوړتیا وسیله وګرځي.

**موخه**

د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی غواړي چې د محصلانو د روزلو په موخه داسي علمي، څېړنیز میتودونه او مهارتونه په کار واچوي، څو په ملي کچه د کرنیز اقتصاد سکتور لپاره ښايي د اصلاح کولو او پیاوړتیا ګټور وي.

| شماره | رتبې | د استادانو شمیر |
|---|---|---|
| ۱ | پوهاند | ۱ |
| ۲ | پوهنوال | ۰ |
| ۳ | پوهندوی | ۱ |
| ۴ | پوهنمل | ۵ |
| ۵ | پوهنیار | ۴ |
| ٦ | نوماند پوهنیار | ۷ |
| **ټوټل استادانو شمېر** | | ۱۸ |
| **ټوټل محصلینو شمېر** | | ۱۲۲ |

(۱۳) **جدول**: د برحاله استادانو او محصلینو شمېر.




(۱۰) **ګراف:** د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځي برحاله څانګې.




(۱۱) **ګراف:** د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځۍ د برحاله استادانو او محصلینو شمېر.




(۱۲) **گراف:** د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی تشکيلاتي چارټ.

# د وترنري علومو پوهنځی

د وترنري علومو پوهنځی د افغانستان د پخواني دولت د ځانګړي فرمان په اساس په (۱۳۹۸) هـ ش کال کښې د اناستو پوهنتون په چوکاټ کښې منظور سوه او په (۱۳۹۹) هـ ش کال کښې د کانکور له لارې د لومړي ځل لپاره محصلان جذب کړل. دا پوهنځی په خپل ترکیب کښې څلور مسلکي څانګي لري، چي عبارت دي له (کلینیک، پری کلینیک، پاراکلینیک او اساسي علوم). د وترنري علومو پوهنځی د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت او نړیوالو معیارونو سره سم پنځه کلنه تحصیلي دوره لري، چي نظري او عملي تدریس، مونوګراف، سیمینار او همه‌شموله مضامین پکښې شامل دي چي په مجموعي ډول (۲۰۹) اکاډمیک کریډیټونه لري. دا پوهنځی اوس مهال (۹) تنه کادري غړي لري چي د لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا تر کچي زده کړي لري او له پوهنیار څخه تر پوهندوی پوري د علمي رتبو لرونکي دي. د وترنري علومو پوهنځی د تدریس، څېړني او ترویج لپاره کافي اداري او خدماتي پرسونل لري، چي د خپلو موخو د تحقق لپاره هڅه کوي د نظري تدریس لپاره کافي تدریسي ټولګي، معلوماتي ټکنالوژۍ او اړین امکانات لري او د عملي او ساحوي فعالیتونو لپاره هم تر یوه حده لابراتواري او ساحوي اسانتیاوي په اختیار کښې لري.

## د پوهنځی اساسنامه

د وترنري علومو پوهنځی لرلید او رسالت د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د لارښود مطابق ترتیب او د پوهنتون علمي شورا ته وړاندي سوی او تائید دی. دا جوته ده، چي با کیفیته زده کړي د وړ بشري ځواک په وړاندي کولو کښې رغنده ونډه لري، ځکه نو یاده پوهنځی یو روښانه رسالت او لرلید لري، تر څو د هیواد په کچه د لیسانس داسي کادرونه ټولني ته وړاندي کړي، چي د ټولني د پرمختګ، ښیرازۍ او سوکالۍ مصدر وګرځي.

**لرليد**

د وترنري علومو پوهنځی به د هیواد او سیمي په کچه د وترنري سکتور د معیاري کولو لپاره د مسلکي کادرونو په روزلو کښي لوړ مقام ولري.

**رسالت**

په عصري ټکنالوژۍ سمبال ښوونیز، علمي او څېړنیز چاپېریال برابرول، ترڅو ټولني ته د وترنري سکتور د لا پیاوړتیا لپاره علمي کادرونه او باکیفیته خدمتونه وړاندي کړي.

**موخي**

- د وترنري علومو په پنځوځانگو کښي د ظرفیتونو لوړول؛
- د هیواد او سیمي په کچه د وترنري علومو اړوندو ځانگو کښي د باکیفیته علمي څېړنو ترسره کول؛
- د انساني ټولني لپاره د صحي او له تقلب څخه خالي غذايي موادو برابرول؛
- د مختلفو میتودونو له لاري د ناروغیو تشخیص، درملني او مخنیوي لپاره د لازمو لارو په نښه کولو کښي د محصلینو د پوهی کچه لوړول؛
- د انساني ټولني او حیواناتو ترمنځ د شریکو ناروغیو پېژندل د سرایت مخنیوی او کنټرول په اړه عامه پوهاوی ورکول؛
- په ملي او نړیواله کچه له اړوندو ادارو سره همغږي رامنځته کول؛

**ارزښتونه**

- د اسلامي، فرهنگي، اخلاقي او هیواد پالني د اصولو پر بنسټ د ځوان نسل روزنه، ترڅو د شفاف مدیریت او رهبري له لاري هیوادوالو ته مؤثر خدمات وړاندي کړي؛
- د وترنري ساحی لپاره داسي فارغان روزل، چي سمدستي د وترنري په برخه کښي د کار کولو وړتیا ولري.
- د ساري ناروغیو د مخنیوي لپاره مرستندویه څېړني ترسره کول.




(۱۳) **ګراف:** د وترنري علومو پوهنځی تشکيلاتي چارټ.

**د پوهنځی  د تاسیس کال څخه تر (۱۴۰۴) هـ ش کاله پورې د فارغو محصلانو احصائیه**

د وترنري علومو پوهنځی په (۱۳۹۸) هـ ش کال کښې د پخواني جمهور رئیس د حکم په اساس د اناستو پوهنتون په چوکاټ کښې رامنځته سوه او په(۱۳۹۹) هـ ش کال کښې د کانکور له لوري ورته محصلان جذب او تر اوسه پورې ئې یوه دوره محصلین ټولني ته وړاندي کړې دي.

.




(۱۴) **ګراف:** د ټولګیو پر اساس د محصلانو احصایه وړاندي کوي.

## د حیواني علومو پوهنځی

د حیواني علومو پوهنځی د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د ایجاد سره سم په ($\frac{۴۰۲}{۱۱۷۲}$) (۱۳۹۱/۱۰/۲۰) هـ ش ګڼه نېټه حکم د پوهنتون په اکاډمیک تشکیل کښې ځای پرځای سوي. د حیواني علومو پوهنځی د شروع سره سم څلور څانګي (د حیواناتو اصلاح او روزنه، وترنري، د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسیس او د مرغانو، ماهیانو او شاتو مچیو روزنه) رسماً منظور سوي. د حیواني علومو پوهنځی د وترنري څانګي د وترنري علومو پوهنځی ته ارتقاء وکړه، او د لوړو زده کړو وزارت د عالي شورا د (۵) (۱۳۹۸ /۰۷/۱۵) هـ ش ګڼه نېټې پریکړې او (۱۰۶۵) (۱۳۹۸/۰۸/۰۵) ګڼه نېټې لیک له مخې د (۲۱) کادري، اداري، فني، محافظتي او خدمتي بستونو په درلودلو سره د وترنري علومو پوهنځی د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون په چوکاټ کښې رسما منظور سول، همدارنګه په (۱۳۹۹) هـ ش کال اناستېو پوهنتون ته د کندهار پوهنتون څخه د لیسانس په کچه د کرهڼي پوهنځی د انتقال او ادغام په نتیجه کښې د همدې پوهنځی د لیسانس په کچه د مالدارۍ څانګه د حیواني علومو پوهنځی د فوق لیسانس په کچه مالدارۍ څانګي سره یو ځای سول چي اوس مهال د حیواني علومو پوهنځی د مالدارۍ څانګه د لیسانس او فوق لیسانس په کچه برنامې پر مخ وړي.

**لرلید**

د حیواني علومو پوهنځی به د سیمي او نړۍ په کچه سره د معیاري محقیقینو په روزلو کښي لوړ مقام ولري.

**رسالت**

په عصري ټکنالوژۍ سمبال تدریسي، علمي، څیړنیز او ترویجي چاپېریال برابرول او ټولني ته به د حیواني علومو سکتور د پیاوړتیا لپاره په ښه کمیت او کیفیت خدمتونه وړاندي کړي.

**هدف**

د حیواني علومو پوهنځی غواړي، چي د علمي او څېړنیزو کادرونو د روزلو په موخه داسي علمي، څېړنیز مېتودونه او مهارتونه په کار واچوي، څو په سیمه ایزه او نړیواله کچه د مالدارۍ سکتور لپاره ښایي، د اصلاح کولو او پیاوړتیا لپاره مستفید وي.

**ارزښتونه**

- د یوې سپیڅلې او اسلامي روحیې په شتون سره وطن پالنه؛
- معیاري او باکیفیته لوړي زده کړي؛
- د څېړني بډاینه؛
- سالمه اداره او اغېزمنه رهبري؛
- اکاډمیکه آزادي رامنځته کول؛
- حساب ورکونه؛
- په کارونو کښي شفافیت او د فساد مخنیوی؛
- د هر قسم تبعیض څخه ډډه کول.

**ښوونيزي موخي**

- د حيواني علومو په مختلفو څانگو لکه: مالداری، د حيواناتو اصلاح او روزنه، د حيواني محصولاتو ذخيره او پروسيس، د الوتونکو، ماهيانو او شاتو مچيو روزني په برخه کښي د ظرفيتونو روزنه؛
- د هيواد او سيمي په کچه د حيواني علومو او حيواني توليداتو په اړه د باکيفيته علمي څېړنو ترسره کول؛
- د حيواني محصولاتو د کميت او کيفيت پياوړتيا؛
- د حيواني علومو په برخه کښي معيار څېړني؛
- د حيواني محصولاتو په موخه د محلي نسلونو اصلاح؛
- د انساني ټولني او حيواناتو ترمنځ د شريکو اړيکو پېژندل، اصلاح، روزنه او تغذيه په اړه عامه پوهاوی ورکول؛
- په ملي او نړيواله کچه له اړونده ادارو سره هماهنگي.




(۱۵)**گراف:** د حيواني علومو پوهنځی د رهبری او څانگو تشکيلاتي چارټ.

| شماره | د حیوانی علومو پوهنځی برحاله محصلان او استادان د تحصيلي رتبو په تفکیک سره | |
|---|---|---|
| ۱ | لیسانس | ۱۱ |
| ۲ | ماستر | ۴ |
| ۳ | دوکتور | ۰ |
| | **مجموعه** | **۱۵** |
| | **د محصلانو شمېر** | |
| ۴ | ماستری محصلان | ۱۰ |
| ۵ | لیسانس محصلان | ۳۱ |
| | **مجموعه** | **۴۱** |

(۱۴) **جدول:** د حیواني علومو پوهنځی د برحاله محصلانو او استادانو تحصیلي رتبې.

| شمېره | څانګه | پروګرام | تحصیلي دوره | د فارغ التحصیل محصلانو تعداد | فراغت کال |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مالداري | ماستري | لومړی | ۹ | ۱۴۰۰ |
| ۲ | | لیسانس | لومړی | ۲۹ | ۱۴۰۰ |
| ۳ | | | دوهمه | ۱٦ | ۱۴۰۱ |
| ۴ | | | دریيمه | ۱۸ | ۱۴۰۲ |
| ۵ | | | څلورمه | ۱۵ | ۱۴۰۳ |
| ۸ | د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسیس | ماستري | برنامه فعاله نده | نلری | ۰ |
| ۹ | | لیسانس | برنامه فعاله نده | نلری | ۰ |
| ۱۰ | د الوتونکو، ماهیانو او شاتو مچیو څانګي | ماستري | برنامه فعاله نده | نلری | ۰ |
| ۱۱ | | لیسانس | برنامه فعاله نده | نلری | ۰ |
| ۱۲ | د حیواناتو نسل اصلاح او روزني څانګي | ماستري | برنامه فعاله نده | نلری | ۰ |
| ۱۳ | | لیسانس | برنامه فعاله نده | نلری | ۰ |
| مجموعه | | | | ۸۷ | |

(۱۵) **جدول:** د حیواني علومو پوهنځی فارغ التحصیل محصلانو تعداد.

د حیواني علومو پوهنځی له خوا تدریسي، علمي، عملي او نظري کړنې په منظم او منسجم ډول د (۱۵) تنو مجربو استادانو لخوا مخې ته وړل کیږي، چې فعلاً په دغه پوهنځی کښې د (۴) تنو مجربو استادانو د ماستری او (۱۱) تن د لیسانس تر کچې زده کړې بشپړې کړې دي. د یادونې وړ ده، چې د استادانو له همدې جملې څخه (۵) تنه استادان د ماستری په پروګرام او (۱) تن استاد د دوکتورا په پروګرام د هیواد څخه بهر په زده کړو بوخت دي.

| ګڼه | رتبه | تعداد |
|---|---|---|
| ۱ | پوهاند | ۰ |
| ۲ | پوهنوال | ۱ |
| ۳ | پوهندوی | ۰ |
| ۴ | پوهنمل | ۱ |
| ۵ | پوهنیار | ۴ |
| ٦ | نوماند پوهنیار | ۸ |
| ۷ | پوهیالی | ۱ |
| | **ټول شمیر** | ۱۵ |
| | **د محصلانو احصائیه** | |
| ۸ | **ماستر محصلان** | ۱۰ |
| ۹ | **لیسانس محصلان** | ۳۱ |
| | **ټول شمیر** | ۴۱ |

(۱٦) **جدول:** د علمي کادرونو علمي رتبې او د موجود محصلینو احصائیه.

# د پوهنتون عمده لاسته راوړني

## علمي لاسته راوړني

- د کال په جریان کښې داستادانو مختلفو علمي رتبو ترفیع او تثبیت اسناد تر لاسه کول؛
- د هیواد په کچه د یو مجهز او پرمختللي لابراتوار شتون؛
- د زراعت وزارت او د خوړو او کرهنې مؤسیسې لخوا د خاوري کتلاک او نقشې جوړولو کښې د اناستو پوهنتون بارز او اساسي رول؛
- د خاوري، اوبو او اگرانومي ځانگو په لابراتوارونو کښې د ډېرو پرمختللو څېړنو او ټیستونو د ترسره کولو وړتیاوو شتون؛
- د هند هیواد د زراعتي تحقیقاتو انستیټیوت څخه د (۱۳) تنه استادانو او اداري کارمندانو روزنه، چي د خاوري، اوبو، عناصرو په تجزیه، د شنو خونو په جوړښت، د ابیارۍ سیستمونو په ډیزاین او بوتانیکي باغ په جوړښت او مدیریت کښې ئې زده کړې او روزنه ترلاسه کړې ده؛
- د پوهنتون په کچه څلور لارښودونه چاپ سوي د علمي سیمنارونو معیاري لیکنه، محصلانو لارښود، جدید الشمول، د څېړنېزو تگلارو لارښود او د علمي مجلو او علمي مقالو لارښود؛
- د اصلاح سوو تخمونو تولید، د کمپوسټ جوړول، په کندهار ولایت کښې د خاوري نقشه کول او د باراني اوبو مدیریت بېلا بېلي طرحي د همدې پوهنتون د استادانو لخوا ترتیب سوي او د تطبیق په موخه د مسؤلینو په واک کښې ورکړل سوي دي؛
- د پوهاند انجینر شاه محمود (بری) لخوا، د چاپېریال ساتني اساسات، د ځنگل پوهني بنسټونه، د کرنیزو تخمونو علم او ټکنالوژۍ، نباتي فزیالوژي، ځوانانو ته د بریا په موخه سل گټور پیغامونه، د ټولنیزو اصلاحي پیغامونو تر عنوان لاندي او نور (۱۳) بېلابېل کتابونه تألیف او ژباړل سوي دي؛

- د پوهاند سید محمد کبیر (مین) لخوا د اصلاح شوو نباتي ورایټیو د ترویج لارې، د کرنیزو تولیداتو اقتصاد، کرنیز ترویج، په وچو سیمو کښې د څاڅکو اوبو لګولو سیستم ترویج او په ټوله کښې (۱۰) مختلف کتابونه تألیف او ژباړل سوي دي؛
- د پوهنوال علاء الدین (مستمند) لخوا حیواني غذا او تغذیه، لبنیات پوهنه، د مالدارۍ بنسټونه او په ټوله کښې (۹) بېلابېل ګټور کتابونه تألیف او ژباړل سوي دي؛
- د پوهنیار کرامت الله (فا ضل) لخوا د خاوري د تجزیې لارښود او باثباته کرهنې کتابونو تألیف؛
- د سبو روزني ممد درسي کتاب چاپ سوی؛
- په ټوله کښې د اناسټو پوهنتون د استادانو لخوا تر (۷۰) پورته بېلابېل ګټور کتابونه تألیف او ژباړل سوي دي، چې د استادانو، محصلانو او کتابتونونو لخوا ورڅخه ګټه اخیستل کیږي؛
- د اناسټو پوهنتون له ایجاد څخه تر دې مهاله د (۷۰۰) په شاوخوا کښې علمي او څېړنیزي مقالې د همدې پوهنتون د استادانو لخوا لیکل سوي او نشر سوي دي؛
- د کیفیت د لوړاوي د لومړي پړاو بریالیتوب ترلاسه شو؛
- د (۵) ماسترۍ برنامو لپاره په (۱۴۰۳) هـ ش کال کښې محصلان د ازاد رقابت له لاري جذب او تدریسي چاري ئې دوام لري؛
- د سهیل لویدیځ زون (کندهار، هلمند، ارزګان، زابل او دایکندي) په کچه د علمي کادرونو د تقرر، علمي رتبو تثبیت، علمي ترفیعاتو او انفکاک چاري مخته وړل سوي دي؛
- د همدې پورتنیو پوهنتونونو استادانو ته بېلا بېل روزنیز ورکشاپونه دایر سوي او دایریږي؛
- د علمي کادر په تشکیل کښې د (۱۰) تنو استادانو د دوکتورا په سطحه لرل.

- د چاپېريال ساتني او ښاري فرهنګ د ترويج په برخو کښې د کندهار ښاروالي سره په مختلفو ورکشاپونو کښې ګډون او د پوهنتون لخوا طرحې ورکړل سوي دي؛
- د ليسانس برنامو د (۳) نويو څانګو تحصيلي نصابونو مسودي ترتيب او وزارت سره شريکې سوي دي.

## د علمي کنفرانسونو او روزنيز پروګرامونو په لاره اچول

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د ولايت او زون په سطحه په بېلابېلو علمي کنفرانسونو کښې برخه اخيستې ده او په دې برخه کښې ئې کليدي رول لوبولی دی، او همدارنګه د اداري په داخل کښې ئې هم ځيني روزنيز پروګرامونه د خپلو استادانو او اداري پرسونل د ظرفيت د لوړولو په خاطر په لاره اچولي دي د ځينو څخه ئې په لاندې ډول يادونه کولای شو.

- ✓ د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د ولايت په کچه د کمال خان بند تر عنوان لاندي علمي کنفرانس رهبري او په دې برخه کښې بېلا بېلي علمي مقالي ګډون والو ته وړاندي کړي؛
- ✓ د تضمين کيفيت په اړه د پوهنتون د پوهنځيو، څانګو او نور اړوند امريتونو او مديريتونو له پاره ورکشاپ داير سوي دي؛
- ✓ د څېړني په اړه د دوکتورا درلودونکو استادانو لخوا د څېړنې اړوند ورکشاپونه داير سوي دي؛
- ✓ د کندهار ولايت د بېلابېلو ولسواليو بزګرانو ته روزنيز ورکشاپونه داير سوي او لا دوام لري؛
- ✓ د دايکندي، زابل او نورو پوهنتونو استادانو ته انلاين څېړنيز بېلابېل ورکشاپونه په لاره اچول سوي دي.

## د محصلانو په برخه کې لاسته راوړنې

- په مختلفو ځانګو کښې تر سلو زیات ماستر محصلین ټولني ته د خدمت په موخه وړاندې سوي دي؛
- د محصلانو ستونزو د حلولو په موخه د مختلفو کمېټو ازموینو او شکایتونو اوریدلو کمېټه، نظم او ډسپلین کمېټه ،محصلانو شورا، د تدریسي مدیرانو شورا، او د محصلانو ترمنځ د سپورټي سیالیو جوړېدل؛
- د محصلانو اړوند د مختلفو پالیسیو، انظباطي، عدالت او انصاف، اخلاقي اصولو، صحي او اړوند نورو پالیسیو درلودل؛
- د محصلانو د ظرفیت لوړوني لپاره د لنډ علمي سفرونو ، د علمي او عملي کارونو په ترسره کولو کښې د څېړنیز فارم، لابراتوار او کتابتون اسانتیاوي برابرېدل؛
- د برحال او فارغ سوو محصلانو اړوند چارو لپاره الکترونیکي سیستمونو جوړېدلو هڅي ترسره کول؛
- د محصلانو چارو معاونیت له لوري د محصلانو په اصلاحي، وړتیا لوړوني او ورزشي برخه کښې مختلف پروګرامونه جوړ سوي دي؛
- د محصلانو ورزشي منظم فعالیتونه.

## د محصلانو او تحصیل لپاره سته امکانات او فرصتونه

دا چي په تحصیلي نهادونو کښې تر ټولو اساسي او کلیدي برخه محصلین دي، نو په همدي خاطر د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون اداري د ذکر شوو برخو لپاره زیار ایستلې دي، چي د محصلینو لپاره بېلابېل فرصتونه او

امکانات رامنځته کړي دي او دا لړۍ لا دوام لري، چې د ځینو څخه ئې لاندې یادونه کوو.

- مجهز صنفونه؛
- دولتي، جنراتوري او سولري برېښنا سیستم؛
- کافي (65mb) سرعت لرونکی انټرنیټ؛
- مجهز کتابتون؛
- کمپیوټر لیب؛
- د عملي کار ساحه؛
- د تصامیمو په نیولو کښې ګډون؛
- د الکترونیکي زده کړو فرصت؛
- اداري تعمیرات؛
- تدریسي تعمیر؛
- لیلیه؛
- طعام خوري؛
- د مطالعې منظم چاپېریال؛
- ډول ډول زراعتي ماشین آلات؛
- د شکایاتو صندوق؛
- د خاورې، نبات او د اوبو د ازمویلو مختلف ماشینونه؛
- بېلابېل ورزشي میدانونه؛
- د بېلابېلو ورزشي فعالیتونو لوازم؛
- د ځانګړو فعالیتونو لپاره ټرانسپورټ؛
- په تشنابونو کښې د ګرمو اوبو اماده کولو لپاره ګیزران؛
- د عملي کار لپاره تحقیقاتي فارم ساحه؛
- د نوښتونو ملاتړ او پیاوړې کول؛

- (۵۰۰۰) جریبه ځمکه؛
- د ځمکو خړوبولو لپاره ظاهرشاهي کانال؛
- داوبو لګولو لپاره وده **(Central fudge)** سیستمونه؛
- د فوټبال میدان داوبو ورکولو لپاره د **(Sprinkle)** سیستم موجودیت؛
- ټیلي ایجوکیشن سنټر؛
- د انګورو باغ ، د اناروباغ ، د پستې باغ، رنګه باغونه؛
- شنې خوني؛
- د هیواد په سطحه مجهز لابراتوار؛
- مجهز میلمستون؛
- شنه ساحه؛
- ګل خانه؛
- د محصلینو لپاره تفریحي پارک؛
- د محصلینو، استادانو او کارمندانو د نقلیه وسایطو لپاره مجهز پارکینګونه؛
- دوه مجهز عمومي تالارونه چې یو تالار (۱۰۰۰) تنه اوبل تالار (۵۰۰) کسانو د ځایولو ظرفیت لري؛
- د څښلو اوبو د تصفیې لپاره د اوبو فلټرونه؛
- د کنفرانس اطاق.

## په پوهنتون کښي د سته امکاناتو او فرصتونو انځورونه



اداري تعمیر



تدریسي تعمیر



د علمي څېړنو معاونیت تعمیر



د لیلیې تعمیر



د خوړنځای ودانۍ



د مسجد شریف ودانۍ



د اناستو پوهنتون د امام ابو حنیفه (رح) غونډو تالار (۱۰۰۰) نفري

د اناستو پوهنتون د امام بخاري (رح) د غونډو تالار (۵۰۰) نفري



د کنفرانس تالار



د مسلکي پرمختیایي مرکز (PDC) تالار



مجهز کمپیوټر لیب



مجهز کتابتون



مجهز صنفونه




مجهز لابراتوار



مجهز لابراتوار یوه برخه



د زینتي بوټو نرسري



تفریحي پارکونه



د فوټبال میدان



د اناستیو پوهنتون لپاره ټرانسپورټ وسایل



د څېړنيز فارم ساحه



په څېړنيز فارم کښي د زينتي بوټو نرسري



د څېړنيز فارم وسايل او ماشين الات



په ښېړنيز فارم کښې د حيواناتو لپاره جوړ سوي ښېړنيز فارمونه

## د استادانو تألیفات او ژباړې

په دې برخه کې د اناستهو پوهنتون د استادانو د ځینو تألیفي او ژباړل شوو اثارو انځورونه کتلای شئ، چې د عامه خدمت او علمي ارتقاء په موخه چاپ شوي دي.












د تألیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه







د تألیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه







د تالّیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه







د تالّیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه







## د تاّلیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه







## د تاّلیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه




د تألیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه




د تألیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه







## د تاّلیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه







د تاّلیفاتو او ژباړې نمونه یی انځورونه

## د پوهنتون اړيکي او علمي بهير

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون په ټولنه کښې د خپلي فعالي ونډې درلودلو په موخه په هيواد کښي دننه د مختلفو اکاډميکو او سکتوري ادارو سره د ګډو همکاريو هوکړه ليکونه لاسليک کړي. دا اداره غواړي چي د نورو د تجربو، څېړنو او امکاناتو څخه خپل د استادانو، اداري کارکوونکو او محصلينو په برخه کښي ګټه پورته کړي او همدارنګه د خپلو باتجربه استادانو او محصلينو تجربې، څېړني او زده کړې د ټولني د نورو وګړو او ادارو سره شريکي کړي او هڅه کوي، چي د هيواد څخه بهر هم ځيني تفاهم ليکونه د لاسليک او ګډو همکاريو چينلونه فعال کړي.



د اناستيو پوهنتون ۵۰۰۰ جريبه ځمکه

## د ټولني سره د اړيکو قوت:

دافغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون اداره هڅه کوي، څو د ټولنې د ضرورت، کلتوري او فرهنګي خصوصياتو، مذهبي ارزښتونو، ټولنېزو اړيکو اقتصاد، سياسي، تعليمي امکاناتو او طبيعي فرصتونو په تحليل سره داسي خدمات وړاندي کړي، چي د ټولني لپاره د قناعت وړ او د مؤثريت د اعظمي ګراف سره وصل وي، چي په دې برخه کښي پوهنتون رهبري تل هڅه کړې ده چي د خپلو ټولنو په ټولو تصاميمو کښي د ټولني د بېلابېلو اقشارو، لکه، ديني علماء، مسلکي او متخصص کسانو، ځوانانو، د مدني ټولنو استازو، د رسنيو استازو او داسي نورو ... د فکري ځواک څخه په استفاده داسي خدمات ارائيه او تنظيم کړي، چي له يوه پلوه د هر چا د قناعت سبب سي او د بل پلوه په متوازنه توګه د ټولني برخي تر خپل پوښښ لاندي راولي څو د هر ډول قومي، ژبني، سمتي او مذهبي تعصب څخه خالي و اوسي. يادونه بايد وسي چي پوهنتون په تيرو څو کلونو کښي د خلکو د عامه پوهاوی لپاره بېلابېل پروګرامونه د ولايت په کچه رهبري او د تحصيلي نهادونو د يوه مثبت تصوير په وړاندي کولو سره د ټولني تر وګړو پوري رسولي دي.

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون څېره يا (**Profile**) د مالي او اداري معاونيت اړوند د نشراتو د کمېټې مؤظفه جرګه ګۍ له لوري بشپړ او د تائيد په موخه د پوهنتون علمي شورا ته وړاندې سو، چي د يادی شورا د (۳۰ / ۰۷/ ۱۴۰۴) نېټې غونډې او (۷) ګڼې پروتوکول کښي د رايو په اکثريت سره تائيد او د خپرېدو سپارښتنه وسوه.

والسلام

الحاج مولوي سيد محمد داود اغا (الهاشمي)

د افغانستان د کرنيزو علومو اوټکنالوژۍ ملي پوهنتون رئيس